# د امریکې د بهرنیو چارو وزارت د ورستیو څرګندونو په اړه د اسلامي امارت د سیاسي دفتر اعلامیه

د افغانستان د اسلامي امارت سیاسي دفتر د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکې د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالې الیس ویلز د وروستیو څرګندونو په هکله چې وایی امریکې طالبانو ته د مذاکراتو دروازه پرانستې ده خپل موقف په لاندې ټکوکې څرګندوي :
د افغانستان اسلامی امارت سیاسي دفتر په امریکایي چارواکو غږ کوي چې د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل لپاره د اسلامي امارت له سیاسي دفتر سره مخامخ خبرو ته راشي .
د مسئلې د حل لپاره دا ښه ده چې امریکایی لوری د افغان ولس مشروع غوښتنې ومني او خپل نظر او غوښتنې له سوله ایزې لارې له اسلامي امارت سره د بحث لپاره وړاندې کړي .

اسلامي امارت څو ورځې مخکې هم د امریکې ولس او د کانګریس غړیو ته په یوه سرخلاصي لیک کې واضح کړې چې جګړه زموږ انتخاب نه دی؛ بلکې په موږ تپل شوې .
موږ د اشغال د خاتمې لپاره د افغانستان د مسئلې سوله ایز حل غواړو.
اوس به امریکا او د هغوی ایتلافي ملګرو ته ثابته شوی وي چې د افغانستان مسئله نظامي حل نه لري.

امریکا باید نور په افغانستان کې د جګړې په ځای د سولې په ستراتیژی تمرکز وکړي.
استعمال شوی نظامي لارې چارې چې په تیرو اوولسو کلونو کې په کراتو تجربه شوی، یوازې جګړه تیزوي او نوره یې هم اوږدوي چې دا د هیڅ لوري په ګټه نه ده.

دافغانستان داسلامی امارت سیاسي دفتر
۱۰/۶/۱۴۳۹هـ ق
۷/۱۲/۱۳۹۶هـ ش
2018/2/26م